# مېجر یونس خلیل ”د رومان شهزاده“

# Major Younas Khalil the Prince Romanticism

Nagina Khanam Nageen [1]

Romanticism is a way of action, a realistic approach to life, reformation in the society and literature. When we study Pashto literature we feel proud to have a martial personality great poet and scholar like Khushal Khan Khattak who is no doubt the father of Pashto language but also the forerunner of romanticism in Pashto poetry. Those Pashto poets who have studied the poetry of Khushal have got the inspiration from him. In addition to this, whose poets who are/were well versed in English literature have also taken advantage romanticism through this way. Major Younas Khalil has taken advantage from both the sources i.e. from Khushal and English literature. The poetry of Younas Khalil contains all the qualities of a romantic poet. He really deserves to be called the prince of romanticism.This research paper is a sufficient proof of my claim.

د حسن پرستار ، د پاکې مینې ترجمان، د رنګین تخّیل شاعر، د لفظونو ماهر، د خوبونو د جزیرو جادوګر او د رومان شهزاده۔ مېجر یونس خلیل څۀ غېر معروف شخصیت نۀ دے ـ هغه د شعر د دنیا یو ښکاره نوم دے ـ او د شاعرانو په هغه صنف کښې شامل دے چې د دستار ترلو حق لري ـ

مېجر یونس خلیل څوک وُ ؟ کور کلے ئې کوم وُ ؟ په دې باب کښې ښاغلے همېش خلیل لیکي:

"یونس خلیل د خلیلو په مشهور کلي بر تاکال کښې د محمد ایوب خان الکوزي کره د کال 1925ء اګست په وړومبۍ ورځ د (یکم اګست 1925ء) پیدا شو ـ په خپل کلي کښې د ابتدائي تعلیم د حاصلولو نه وروستو اسلامیه کالجېټ هائي سکول کښې داخل کړے شو ـ د مېټرک کولو نه پس اسلامیه کالج پېښور ته لاړ۔ بي ایس سي ته د رسېدلو سره یوځ کښې د لفټننټ په عهده واخستے شو ـ (1) "

1　Lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar

ښاغلے یونس خلیل د میجرۍ عهدې ته اورسېدو خو له بده مرغه په 16 دسمبر 1971ء د ډهاکې د سقوط په وخت د یو جنګي قېدي په حېث د هند برېلي ښار ته ورسؤلے شو او هلته ورته زولنې ورواچولے شوې او د یو جنګي قېدي په حېث ئې ژوند تېرولو۔

د هند د قېد نه چې آزاد شو او خپل وطن ته راستون شو څۀ موده پورې ئې د کوهاټ د سولجر بورډ په دفتر کښې په طور د سېکرټري خپله وظیفه تر سره کوله ـ د ملازمت د پرېښودو نه پس ئې آزاد ژوند تېرول خوښ کړل او خپل فارغ وخت ئې شعر و شاعرۍ، ادبي محفلونو او دوستانو سره ناستې پاستې ته وقف کړو ـ

په جولا ئي 2000ء کښې د زړۀ د مرض د علاج دپاره اسلام آباد ته لاړو خو د بد قسمتۍ نه هلته پرې د زړۀ دوره راغله او د جولا ئي د میاشتې په شلم تاریخ د زیارت په ورځ وفات شو ـ

د میجر یونس خلیل مرګ ، د پښتو د خوږې لهجې او ښائسته شاعرۍ مرګ ؤ ـ د هغۀ په ناساپي مرګ د هغۀ ادبي ملګري ډېر زیات خفه شول په دې باب کښې د پروفېسر ډاکټر محمد همایون هما یو څو شعرونه داسې دي چې د شعرونو عنوان ئې "ښکلے انسان" دے ـ

د پښتو د روماني شعر ناویاته آواز د میجر یونس خلیل په وفات (21 جولائي 2000ء)

د سحر ناوې به څۀ کړي غزلخوان لاړ
حسن لاړو ، نغمه لاړه ګلستان لاړ
قافله د رنګ و بُو په کډه لاړه!
د رومان د فن کډې چې ؤ رازدان لاړ
ښاپېرۍ به اوس د شپو چا وته رقص کړي
چې ښائست د دوي د ښکلي پرستان لاړ
د خوږې لهجې شاعر ؤ ما بللے
په رښتیا هغه وارث د لوے د رحمان لاړ
همایونه په تیارو کښې پرې تېرېږه
رڼې په ذهن هم په زړۀ هغه روښان لاړ (2)

د مېجر یونس خلیل تر اوسه د کلام درې مجموعې چاپ شوې دي ـ

1ـ لا له زار ، 2ـ څاڅکي ، 3ـ پس د څاڅکو لا له زار

1ـ لا له زار:ـدا د ښاغلي یونس خلیل د کلام وړومبۍ مجموعه وه چې د هغهٔ د ځوانۍ او طالب علمۍ د ورځو سره تعلق لري ـ دغه مجموعه په اول ځل په کال 1946ء کښې چاپ شوې وه ـ لا له زار زیات تر په قطعاتو مشتمل دے او یو څو غزلونه هم پکښې په نظر راځي ـ

2ـ څاڅکي:ـدا د ښاغلي یونس خلیل د کلام دوېمه مجموعه ده چې په کال 1986ء  کښې چاپ شوې ده ـ دغه مجموعه په قطعاتو ، نظمونو ، مرثیو او غزلونو مشتمله ده ـ

3ـ پس د څاڅکو لا له  زار:ـدا د مېجر یونس خلیل صېب د کلام درېمه مجموعه ده چې د هغهٔ د مرګ نه پس حرم پرنټرز پېښور په کال جون 2000ء کښې چاپ کړې ده ـ چې دوه سوه 200 صفحې لري ـ په دغه مجموعه کښې نزدې نزدې هر یو صنف موجود دے ـ ددغه مجموعې د مرتب کولو او چاپ کولو په باب کښې نامتو محقق او ادیب ښاغلے پروفېسر داور خان داؤد لیکي:

> "د مېجر صېب د وفات کېدو نه پس ددهٔ مشر زوے ډاکټر محمد محسن د خپل پلار د کلام هغه مسوده  چې د کاغذ په پُرزو لیکلے شوې وه د مرتب کولو دپاره مونږ ته حواله کړه ـ ما او ډاکټر اقبال نسیم خټک به د پُرزو نه اشعار نوي رسم الخط ته راواړؤل د کمپوزنګ دپاره ـ د غه شان دا کتاب "پس د څاڅکو لا له زار" په نوم چې ښاغلي مېجر یونس خلیل خوښ کړے ؤ ـ زمونږ د دواړو په کوښښونو د معیاري طباعت سره چاپ شو ـ (3)"

د مېجر یونس خلیل کلام ګڼ اړخونه لري د هغهٔ په کلام کښې عارفانه مضامین هم شته، د سماج د ناروا رسمونو  ذکر هم شته ، د هغهٔ د کلام روماني اړخ ډېر معیاري دے ـ د هغهٔ په کلام کښې منظر کشي هم شته او فطرت نګاري هم ـ هغهٔ مرثیې هم لیکلي دي او په کلام کښې ئې رجائیت هم شته ـ هغهٔ د حسن پرستار او جمال پرست هم دے ـ د وطن په مینه مست پټنګ هم دے ـ خو د هغهٔ د کلام یو ېځي ښکاره اړخ رومان پسندي ده ـ ځکه ما هغهٔ ته د "رومان شهزاده" عنوان خوښ کړو ـ مېجر یونس خلیل چې د  شعر کوم اړخ ته لاس اچولے دے هغه ئې یو خاص معیار

ته رسوٸلے دے ـ د هغهٔ په تخّيل کښې د سپرلو نکهتونه ، د ګلونو رنګونه او د ښکلي محبوب مُسکا ټالونه وهي ـ داسې ښکاري چې د رومان د شهزاده کلام د رنګونو بهارونه په لاس کښې اغستي ګرځي ـ په کلام کښې داسې تشبيهات ، الفاظ او مناسب شعري مضامين استعمالوي چې لوستونکے داسې محسوسوي چې هغه شعرونه نهٔ لولي بلکې دغه هر څهٔ عملاً په سترګو ويني او په غوږونو ئې اوري ـ

د ژوند د هرقسم اسانتيا باوجود مېجر يونس خليل په ذهني طور يو مرد قلندر ؤ ـ مېجر صېب د پاکو جذبو ، پاکو خيالا تو او د صداقت پيکر ؤ ـ په عملي ژوند کښې هغه يو سپين زړے انسان ؤ او يو مخلص مسلمان ؤ ـ هغه د ديني فکر علمبردار ؤ که يو طرف ته د هغهٔ په تخّيل عرفاني خيالات راوربېدل نو بل خوا ئې د دوارو جهان د سردار عظمت هم د انسانيت د رهنمايۍ دپاره د هدايت شمع ګڼله ـ هغه د انسانيت معراج د حضور صلي الله عليه وسلم د اعلٰی اخلاقو په اٰئينه کښې لټوي ـ دې سره سره امامانو ته د عقيدت پېرزوني او نور تصوفي رجحانات هم د مېجر صېب په کلام کښې د هغهٔ د باطني طهارت اٰئينه دار دي ـ

هر مسلمان شاعر خواه هغه د کومې ژبې وي د تبرک په خاطر د خپل کلام اٰغاز د حمد باري تعالٰی او نعتِ رسول او د مناجاتو نه کوي ـ د مېجر صېب ټول کلام د هغهٔ د روحاني احساساتو مظهر دے ـ مېجر يونس خليل د حضور صلي الله عليه وسلم سره عقيدت لري ـ او د انسان د پيدا وښت راز داسې په ګوته کوي ـ

زهٔ انسان يم د خالق د فن شهکار يم
يو زره يم خو خوره په نُور اونار يم
کائنات کښې چې څهٔ پټ دي او څهٔ ښکاري
دا زما د ارمانونو لارې څارې
دلته مرګ دے او که فکر د ژوندون دے
ما جوړ کړے يو تصوير په ځيګر خون دے (4)

د خالق کائنات د وحدانیت ، د هغهٔ عظمت او د انسان د ګویایۍ د کمزورۍ خبره داسې کوي ـ

ګویائي ده انتظار کښې د ازل نه
چې قابله ستا د وصف د بیان شي
مګر ژبه چې محدوده د مکان ده
تذکره به په دې څۀ د لامکان شي (5)

د دوارو جهانو سردار حضور صلي الله علیه وسلم صفت کول عقیدت هم دے او عبادت هم او او میجر یونس کلام د دې خبرې ګواه دے چې هغه د خالق او د حضور صلي الله علیه وسلم د ذات سره بې کچه مینه لري ـ ځکه ئې په ډېر ښکلي انداز کښې د هغهٔ تعریف کړے دے۔ وائي چې:

چې ازل پرې بختور دے او ابد پرې مبارک دے
دا معنیٰ د محمد دے چې تکمیل د هر کمال دے (6)

چې معنیٰ د محمد ورته عطا شوه
خپل مقام ته ساه نیولې ارتقاه شوه
مبارکه ابتداء او انتها شوه (7)

وړاندې د حضور د صفت سلسله داسې جاري ساتي او وائي:

چې ګفتار ئې لار د زړهٔ ده چې کردار ئې یو اٰئین دے
پکښې مینه چې تقوٰی ده چې انسان پکښې حرم دے (8)

د قلم معنیٰ پیدا شوه کائنات یو صحیفه شوه
د تحریر اٰغاز چې اوشو هغه نوم د محمد دے (9)

صرف مينه د حضور ده چې انسان ئې محترم کړو
نه په ذات پورې محدوده نۀ خوره په يو مقام ده (10)

ناداري ئې بادشاهي ده د هماء سوري ته ناست يم
محمد زما کوثر دے که سراب که بيابان يم(11)

چې تاريخ دې څۀ اختره له جدا لر لر جماله
دغه عکس د هغه نُور دے چې سيرت مې د اٰقا دے (12)

يو مشال چې د حِرا تيارو کښې بل شو
تنهايۍ ته د انسان دغه محفل شو(13)

## د يونس خليل د کلام مناجاتي او التجائي انداز

د رومانيت او عارفانه کلام سره سره د يونس خليل د کلام مناجاتي او التجائي انداز هم انفراديت لري ـ دغه انداز انفرادي هم دے او اجتماعي هم ـ

هنګامې مې کړه په زړۀ کښې بيا بيدارې
ورځې شپې مې د ژوندون کړه بيا سرشارې
د اٰرزو هغه دنيا راته عطا کړه
جوړوي چې ستا د عرش د پاسه لارې (14)

چې قطره د سمندر مې کائنات شي
اٰ وسعت راته د مينې د ګداز را
چې جهان د ستارو شي ښکته پاتې
تۀ د مينې هغه پر هغه پرواز را(15)

ددغه مېعاري مناجاتي کلام نورې نمونې څۀ په دې ډول دي:

پاکه مینه خدایه بیا زما پیدا کړې
خاموشي د زړونو ساز د زندګۍ کړې
چا چې نوم د رسم اېښے په دعا دے
دغه رسم ورته نخښه د هستۍ کړې (16)

## د یونس خلیل په کلام کښې د حب الوطنۍ عنصر

مېجر یونس خلیل یو ډېر غټ محب وطن شاعر ؤ ـ د وطن د حفاظت ، او سر لوړۍ دپاره هرې قربانۍ ته تیار ؤ ـ دغه قسم ته قربانۍ د هغوي عملي طور سره کړې دي ـ او خپل د خپل سپېڅلي کلام په ذریعه هم ـ حقه خبره دا ده چې د وطن سره د مینې تصور او احساس مونږ ته خوشحال خان خټک را کړے دے او دغه سلسله تر اوسه قائمه دائمه ده ـ

خوشحال بابا وائي:

د وطن مینه اے جانه راپیدا ده له ایمانه
هغه ملک د زړۀ ارمان وي چې پکښې دې ښۀ یاران وي
نۀ د خپل وطن ښارونه نۀ د بل وطن ګلونه
نۀ د خپل دیار ګړګرې نۀ د بل دیار شکرې (17)

مېجر یونس خلیل یو محب وطن بنده او د وطن په درد دردمند شاعر ؤ ـ د وطن سره د مینې اظهار هغۀ په خپلو نظمونو کښې کړے دے چې د 23 مارچ څوارلسم 16 اګست یاد پاکستان عنوان لاندې ئې لیکلي دي ـ د مېجر صېب د وطن سره د مینې شاعري د جذباتو نه ډکه ده ـ په دغه قسم شاعرۍ کښې عقیدت هم شته او محبت هم او د قربانۍ جذبه هم ـ

په یو نظم "وطن ته" کښې د خپلو زړینو خیالاتو اظهار داسې کوي:

زما مینه دې شفق شي
چې ښائسته پرې ستا سحر شي
ستا نامه مې وظیفه ده

د بېتابه زړۀ درزا کښې
هر يو زخم زما شمع
ستا د نوم په چراغان کښې
سرمايه ده د غازيانو
امانت د شهيدانو(18)

په يو نظم "پاکستان" کښې د خپلو جذباتو اظهار داسې کوي:

دا د ورځو شپو په زنه
خال د ننګ او د ناموس دے
دا غازه ده په رخسارو
دا نکرېزې په لاسونو
د شهيد د وينې رنګ دے
د وفا د تورې شرنګ دے(19)

د "وطن عظمت" کښې وائي:

نمر سپوږمۍ دې ستا د شان په تماشه وي
همېشه دې ځلکه غاړه ستا عظمت وي
پکښې ستر کې د مړانې تېټې مه شه
افسانه وي که تاريخ دې حقيقت وي (20)

"سحر د څوارلسم اګست" کښې وائي:

خو بې خوفه بې خطره مونږ د دار د سر سرخۍ کښې
يو رنګين سحر پيدا کړو د هر .ظلم يه تروږمۍ کښې
دا سحر زمونږ مستي وه دا ستاينه د دنيا ده
اعتراف د زمانې دے دا د ورځو شپو ثناء ده (20)

## زنداني شاعري

د زنداني شاعرۍ نه مراد هغه شاعري ده چې يو شاعر ئې د قېد و بند په ورځو شپو کښې کوي ـ په دغه قسم شاعرۍ کښې د جابر قوت له اړخه د ظلم و ستم ذکر هم کېږي ـ د زولنو او زنځيرونو ذکر هم کېږي ـ د اٰزادۍ اٰرزو پکښې هم کېږي ـ په هر طور دغه قسم ته شاعرۍ د دردونو او ژوبل اٰرمانونو يو داستان وئيلے شو۔

هسې خو د زنداني شاعرۍ نخښې نخښانې د خوشحال بابا نه مخکښې هم په نظر راځي خو لکه د ادب د نورو اصنافو په شان زنداني شاعري هم خوشحال بابا معراج ته رسولې ده ـ ځکه چې خوشحال د ادب د هرې موضوع سره پوره پوره انصاف کړے دے ـ

د خوشحال دغه يو څو شعرونه د زنداني شاعرۍ يو ښکلې نمونه ده

پښتنې جُونه دې زلفې باد ته نيسي
چې شمال ئې بوي راوړي په رنتهبور کښې (22)

که ګزر په خبر اٰباد اوکړې نسيمه
يادې ګشت اوشي د سرائے د سيند په سيمه
ورسره زما له لور په څو تسليمه
ګندې وي چې بيا مې ستاسو جام نصيب شي
په ګنګا جمنا به نۀ يو تر قديمه
همېشه به په هند نۀ اوسي خوشحاله
عاقبت به عاصي اووځي له بجيمه (23)

خوشحال بابا په رنتهبور کښې دهلي او اٰګره کښې د مغلو بنديوان ؤ او مېجر يونس خليل د 16 دسمبر 1971ء د نمر ختيز پاکستان د ډهاکې په سانحه کښې د هند په برېلي ښار کښې زندان ته اچول شوے ؤ ـ او هر کله چې د پاکستان او هندوستان تر مېنځه د قېديانو د ايله کولو معاهده اوشوه نو مېجر صېب خپل کور ته راغے خو د زنداني ژوند کوم زخمونه ئې چې په زړۀ خوړلي

ؤ ـ د غه اظهار ئې د شعر په ژبه کړے دے ـ مېجر یونس خلیل د زنداني شاعرۍ زیاته برخه په پوځي کېمپ کښې د جنګي قېدي د احساساتو ، اُرمانونو ، داغونو او دردونو سره تعلق لري ـ

په جنګي کېمپ کښې د خپلو ملګرو په شهادت داسې اوښکې تویوي ـ

څۀ بې رحمه دغه زمکه چې په وینو نۀ مړېږي
فکر دا د وینو څاڅکي ټکي ټکي په ټول کېمپ کښې

د وفا د قول تحریر دے دا زما د قام تقدیر دے
د مظلوم د غاړې دے د ظالم د پښو زنځیر دے (24)

خپل فریاد جاري ساتي او په "یادونو" نظم کښې وائي:

د زندان د تورو شپو په تنهایۍ کښې
ستا یادونه چې مشال د نزدیکت شي
قربتونه د رڼا په لاره راشي
او خیالونه یو ساعت کښې حقیقت شي(25)

په دغه نظم کښې وړاندې وائي:

سنګینونه د زخمونو په سودا کښې
خو یادونه دې بازار د ګلو جوړ کړي
د رنګونو هغه ټال زما هستي شي
چې باران ئې د بهار په ګلو جوړ کړي(26)

بل ځائے کښې وائي:

تنهائي ده په قدم قدم اغزي دي
دغه نخښې راته پاتې د ملګرو
سفرونه د تیارو به ختم نۀ شي

همدمۍ کښې د اٰهونو د بڅرو (27)

که داغونه مې د زړۀ دي
که زخمونه د نظر دي
د زندان په توره شپه کښې
راته نخښې د سحر دي (28)

"د زولنو اٰواز" نظم کښې ليکي:

زولنې زما په پښو کښې
تش خوبونه په جولۍ کښې
زنځيرونه مې شرنګيږي
د زندان په تنهايۍ کښې (29)

زۀ د خپلو زولنو نه
به اوچت هغه اٰواز کړم
چې نغمه د خپل وقار شي
چې وجود مې پرې موجود شي (30)

د ميجر يونس خليل زنداني کلام ډير خور وور او د دردونو ، زبيرګو ډک دے ځکه ئې زۀ په ورکړو شوو نمونو اکتفا کوؤم ـ

## د ميجر يونس خليل په کلام کښې رجائيت

رجائيت د رجاء نه مشتق دے ـ د عربۍ ټکے دے چې د اميد د فلسفې په مفهوم کښې استعماليږي ـ رجائيت يوه اسلامي فلسفه ده ـ په قراٰن پاک کښې هم الله تعالىٰ فرمائيلي دي چې:

" تاسو د الله تعالىٰ د رحمت نه مايوسه کيږئ مه بې شکه هغه د ټولو ګناهونو بخښونکے دے "

د مېجر صېب په کلام کښې د رجائیت سره متعلقه ډېر زیات شعرونه موجود دي هغه په سختو نه سختو حالا تو کښې مایوسي ځان ته نزدې نۀ راپرېږدي او مونږ ته هم دا سبق راکوي چې مایوسي د مسلمان سره نۀ جوړېږي ـ د کلام نه ئې یو څو نمونې وړاندې کوم ـ

په کوم شان چې دار ته خېژو
ورته مرګ هم وار خطا شي
شپه که هر څومره درنه ده
خو آخر به سپین صبا شي
د حسین جذبه خو شته دے
زندګي دې کربلا شي (31)

مرګ چې راشي هرکلے به ورته وایو
اوس د ژوند سره پالنه د دوستۍ ده
زندګي مو ده سینو سره نیولې
که برېښنا ده که سیلۍ ده که ږلۍ ده (32)

امېدونو روان کړے
د یونس د زړۀ کاروان دے (33)

که مشکل دے که آسان دے
خو ژوندون په مونږه ګران دے (34)

## د خپل عصر ترجمان شاعر

شاعر او ادیب پټې سترګې نۀ اوسي بلکې چرته چې ګرځي راګرځي کښېني پاڅي هر څۀ ته په غور ګوري او بیا خپلو تجربو او مشاهدو ته د شعر جامه ور اغوندي ـ دغه تجربې او مشاهدې د عملي

ژوند عکس وي او يو مقبول شاعر هم هغه ګڼلے شي چې د اولس د زړونو او محسوساتو سره سم شعرونه لیکي او خلق داسې شعرونه د خپل زړۀ اٰواز ګڼي ـ

ښاغلے یونس خلیل صېب هر ځاے په پرانستو سترګو ګرځېدلے دے او د معاشرې د هرې طبقې د خلقو د ژوند جائزه ئې اخستې ده او بیا ئې دغه خبرې په شعر کښې بیان کړې دي ـ دغه قسم شعرونه د خپل عصر ترجمان ګڼلے شي ـ یو څو نمونې ئې په دې ډول دي ـ

تشه لاسه اولس له هر څۀ لاس په سر شه
چې روزګار د زمانې په زیات و کم دے(35)

فاصلې د زړونو ورځ په ورځ زیاتېږي
مینه تلې ده په کډه د محلت نه (36)

بیا د زړۀ په نوي زخٰ ټول رایاد شي
ډېر نومونه چې دې مانه فراموش دي (37)

چې یادګار مې د دوستانو د دوستۍ دے
هغه زخم دشمنانو ته ګچه کړم (38)

د دوستانو په سلوک په ځان شکي شم
چې څهره زما زما نۀ ده پردۍ ده (39)

پکښې ویره چې له خپله ځانه کېږي
په دې کلي څۀ بلا د پروتو ده (40)

تصادم دې د رڼا او ظلمتونو
هنګامه د محرومۍ او د حاصل ده(40)

فیصله ده دا د کلي د واکدارو
چې یقین د مسیحا به په قائل کړم (42)

زرداري د دنیادارو
د قدرونو پیمانه شوه (43)

خوښ له وېشه په تالان شي
اوس د کلي دا رواج دے
چې اخلاص یو تنه غواړي
دا مرض دې لا علاج دے (44)

تشه لاسه تش اخلاص به دې څوک څهٔ کړي
غټ پېغور شي د حالا تو بې زري شي (45)

بد دې ښهٔ شي ښهٔ دې بد شي
خو حاصل چې خپل مقصد شي (46)

او چې وېش د دربار په خوښه کېږي
څهٔ به برخه د کتاب او د قلم وي (47)

د مېجر یونس خلیل په دغه شعرونو د غور کولو نه پس یو لوستونکے ډېر په اسانه دا اندازه لګولے شي چې زمونږ سماجي او اخلاقي اقدارو ، د ورکړې راکړې ، د تعلقاتو او د یارۍ دوستۍ معیار څومره راپرېوتلے دے ـ دغه وېناګانې پرون هم رښتیا وې او نن هم رښتیا دي ـ او په راتلونکو وختونو کښې به دا اخلاقیاتو دغه معیار نور هم ښکته لاړ شي ـ

## د مېجر یونس خلیل د غزل تجزیه

غزل لیکل هسې هم ډېر ګران کار دے او بیا یو معیاري غزل خو ددې نه زیات ـ خو د ښهٔ غزل تقاضې پوره کول د هر چا کار نهٔ دے ـ د مېجر یونس خلیل په غزل کښې د غزل نزدې نزدې ټول شرطونه پوره دي چې د غزل روح ګڼلے شي لکه رومان نګاري ، د حسن ستائینه ، د محبوب او عاشق تر منځه د راز و نیاز خبرې ، منظر کشي ، د ژوند حقائق بیانول ـ معاشرتي کوز پاس ، د ښائسته او مناسبو صنفونو استعمال او حقیقت پسند انداز هم هغه اجزاد دي چې د غزل د ښائسته محل پرې ولاړ دے ـ

### منظر کشي

د غزل د شمار په یو څو ټکو کښې د یو مکمل منظر بیانول ډېر ګران کار دے دلته د الفاظو نه د کیمرې کار اغستل دي ـ دغه کار ډېر مهارت او تجربه غواړي ـ مېجر یونس خلیل صېب په غزل کښې داسې منظر کشي کړې ده لکه چې الفاظو ته ئې سترګې وراچولې وي یو څو نمونې په دې ډول دي ـ

ستا وعده مې د ماښام په تنهایۍ کښې
د ښو په څوکو اوګوره ډېوې شوې (48)

په یادونو مې خور شوے ستا جمال دے
که رنګونه له ګلونو هم اٰغوش دي (49)

رنګ د لبو نوي د زلفو ترې نه اخلي
د سحر او د ماښام دغه سازش دے(50)

ستا یادونه کله کله داسې راشي
لکه شپه چې ناګهانه سپین صبا شي(51)

### د محبوب سره د راز و نیاز خبرې

خوږ او زړهٔ ته پرېوتونکے شعر هغه وي چې د مجاز په ځاے پرې د حقيقت ګمان کېږي ـ د محبوب سره د راز و نياز خبرې کول پټه ژبه او د ګونګو کېفيت غواړي ـ دلته د تراخو او نېغو خبرو او د پېغور د خبرو هېڅ ګنجائش نهٔ وي ـ په داسې موقع د نرمۍ او ملائمت نه کار اغستے شي ـ

دا د نوې وعدې ذکر چې بار بار کړې
بې لوظۍ درته رايادې جوړ زړې شوې
اوس ګمان مې په خپل ځان د چا پردي شي
نن دې سترګې رانه هسې شان ستنې شوې(52)

دا څهٔ کم دي چې نسبت دې ورسره دے
خبر په لارو کښې خوارهٔ که مې ازغي شو(53)

هغه وخت مې په تالاش کښې چې ستا تېر شو
په حساب کښې به د عمر حسابېږي(54)

چې ستا ذکر پکښې راشي
د خبرو خوند پيدا شي (56)

تذکره کښې ستا د حسن به شامل شي
بهارونه دې ګمان کښې اوسوده دي (56)

د مېجر يونس خليل د روماني شاعرۍ معيار ډېر اوچت دے ځکه چې هغهٔ د شاعرانه مضامينو دپاره چې د کومو ترکيبونو انتخاب کړے دے ـ هغه يو مشکل او د زړهٔ چاودن کار دے ـ د هغهٔ په رنګين بيانۍ کښې د هغهٔ سپرلئيز تخيل هم ډېر لاس لري ځکه خو ادب شناس او د شعر ذوق لرونکي خلق هغهٔ ته د رومان شهزاده وائي ـ

## د مېجر يونس خليل مرثيه ګوئي

ښاغلي مېجر يونس خليل اګر که په باقاعده ډول مرثيه نۀ ليکي څکه چې د مرثيې خپل اجزاء او خپل ترکيب دے ـ بيا هم د ايوب صابر او د خپل کشر ورور احمد حيات خان په مرګ ئې ماتم کړے دے ـ او په غمژنه لهجه کښې ئې د دوي په دائمه جدايۍ شعرونه ليکلي دي ـ چې د مفهوم په لحاظ د مرثيې په صنف کښې رائحي ـ ددغه شعرونو په لوستو د لوستونکيو جذباتو ته صدمه رسي ـ د خپل پلار د قبر دپاره ئې چې کومه کتبه ليکلې ده د هغې يو څو شعرونه داسې دي ـ

صبح و شام دې رحمتونه
په دې نوي کور وريږي
د خدائے نُور دې په دې کور کښې
تل د طُور هسې ځليږي (57)

## د خوږې ژبې شاعر

مېجر يونس خليل واقعي د خوږې لهجې شاعر دے ـ په اشعارو کښې د هغۀ استعمال کړي الفاظ ، تشبيهات او نورو صنعتونو په رنګونو کښې ډوب ښکاري ـ د لفظونو نه ئې خوشبوياني رااولځي ـ د هغۀ ځنې شعرونه دومره زيات خوارۀ او معني خېز دي چې د متلونو درجه لري ـ دلته ئې د داسې شعرونو يو څو نمونې وړاندې کوم ـ

د ګرېوان څېرل منزل نۀ دے مجنونه
لا په وړاندې ډېر د مينې مقامات دي (58)

سلسله د مخ او زلفو چې زاهد ترې نۀ رااووځي
څۀ رونق بيا دلته پاتې د ژوندون د صبح و شام دے (59)

د دنيا په سر دې سُوري د هما وي
فقط ستا د زلفو سوري دې په ما وي (60)

په ډاډه زړۀ د چا نوم اخستے نۀ شم
راته مخکښې سل خبرې د دنيا وي (61)

دا روزګار دے که د مينې درد و غم دے
خو رونق وربانديې جوړ د کُل عالم دے (62)

تۀ چې راشي نو په خپله خلق خبر شي
د وينا حاجت ئې نۀ وي چې صبا شي (63)

نۀ د لارې د سختۍ نۀ د سفر نه
که يرېږو خو يرېږو د رهبر نه (64)

بې له تانه به هم تېره زندګي شي
زندګي به مګر غېته پښېماني شي (65)

که مشکل دے که آسان دے
خو ژوندون په مونږه ګران دے (66)

## د مېجر يونس خليل ادبي مقام د نورو په نظر کښې

مېجر يونس خليل ته ګڼو او د اوچتې پائې اديبانو او د قلم خاوندانو د يو ښۀ شاعر په طور د عقيدت پېرزونې وړاندې کړې دي ـ او دوي د خپل عصر يو نامتو او صاحبِ طرز شاعر ګڼلے دے۔ په دې حواله مشر اديب ، محقق ، شاعر او افسانه نګار ، او د ډېرو کتابونو ليکونکے ښاغلے همېش خليل ليکي:

"يونس په پښتو شاعرۍ کښې د خپل مخصوص انداز او خصوصياتو په بنا ځانله يو نوے مقام بيا موند د يونس په مصورانه شاعرۍ کښې د محبوب د حسن د

خطونو دلکشي ، تناسب او د رنګونو امتزاج لکه د یوناني مصورۍ د حقیقت څرګند دے (67)"

په دغه موضوع د اردو او پښتو ادیب او کالم نګار ایوب صابر داسې لیکي:

ان کی شاعری میں بوئے گل بھی ہے۔ نالہ دل بھی اور دودِ چراغِ محفل بھی۔ وہ عموماً اپنے دل کے زخموں کو جدید تقاضوں کے مطابق خوشنما الفاظ، رنگین اندازِ بیان اور فنکارانہ چابکدستی سے پیش کرتے ہیں۔ ان کی رومانیت وجدانی ہے۔ اور شاعری میں پاکیزگی، حیاداری، معصومیت، پاکدامنی اور غیرت مندی کی تبلیغ اُن کا مسلک حیات ہے۔ مگر اس مسلک نے اُن کی شاعری کو خشک کہیں نہیں ہونے دیا وہ اول اور آخر شاعر ہیں۔ کسی دیگر سخنِ ادب کی طرف اُن کا میدان کبھی رہا نہیں(68)

په دې سلسله کښې معروف شاعر اور ډرامه نګار ښاغلے پروفېسر محمد اعظم اعظم لیکي:

"یونس خلیل چې د خپل ځلاند تخّیل په رنګینه ژبه باندې کومې خبرې کړې دي هغه خوږې هم دي پستې هم دي او درنې هم دي ـ د یونس شاعري د رنګونو یو داسې بې کرانه بهیر دے چې د هغې د جمالیاتي رنګونه یو ځانله جهان دے (59)"

په دغه موضوع نامتو محقق ، نقاد ، شاعر او ماهر تعلیم ښاغلے پروفېسر داور خان داؤد داسې لیکي:

"ښاغلے یونس خلیل د حالا تو ترخو ګوټونو کښې د مینې خواږهٔ ګډوي د خپل چاپېرچل په توره تیارهٔ کښې د مینې محبت مشالونه بلوي ـ د مایوسۍ او نا امېدۍ په ازغنو لارو کښې د امېد، اعتماد ، مینې محبت او صداقت په درشل اودروي (70)"

په دې حواله خوشحال شناس ، محقق ، شاعر ، پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک وائي:

"د روماني شعر و شاعرۍ سره سره ښاغلے یونس خلیل د پښتو شعر د نوې لب و لهجې سره متعارف کړو ـ او "غم یار" او "غم روزګار" ئې یو بل سره هم آهنګ

کړي دي ـ د داسې ذومعني کلام نه معنې راايستل د لوستونکي په ذوق ، انداز فکر او مطالعه منحصره دي ـ (71)"

په دغه سلسله کښې نامتو ، محقق ، ډرامه نګار ، شاعر او کالم نګار ښاغلے ډاکټر همايون هما ليکي:

ښاغلے يونس خليل د شلمې صدۍ يو باشعوره په جديدو علومو معموره او عالمي ادب په خپل نظر لاندې ساتونکے شاعر دے ـ هغه که يو طرف ته د پښتو کلاسيکي دور د روښانه او دنګې منارې رحمان بابا د خوږې لهجې روايت خپل کړے دے نو ورسره ئې په خپله شاعرۍ کښې د ادب هغه لوے رجحانات هم ځائے کړي دي کوم چې هغه په فطرتي ډول قبلولے شي ـ (72)

ددغه درنو او لوستو ادبياتو د رايو نه پس مونږ په دې نتيجه رسو:

1. مېجر يونس خليل د صفا ذهن ، پاک زړهٔ او روښانه کردار شاعر دے ـ

2. هغه د شعر و سخن په مېدان کښې د هېڅ قسم سياسي نظريو سره تعلق نهٔ لري ـ

3. هغه فقط روماني ، د خپل عصر ترجمان او کريم النفس شاعر دے ـ

4. هغه د خپلې ژبې په روز مره محاوره او الفاظو پوره پوره عبور لري ـ

5. هغه د رومان شهزاده دے ـ او رومان د هغهٔ ژوند دے ـ

6. د هغهٔ شاعري فقط د يو دور نه بلکې د هر دور شاعري ده ـ

د مېجر يونس خليل په ژوند او شاعرۍ ښهٔ فراخه تحقيق کېدے شي او دا د وخت تقاضا هم ده ـ ما د هغه د ژوند او شاعرۍ فقط يو تعارف لوستونکيو ته وړاندې کړه ـ

## ماخذونه


۱: همېش خليل ، پښتانهٔ ليکوال (اول ټوک) دوېم ځل خورونکے دارالتصنيف جهانګير پوره بابو حېدر روډ پېښور کال 1961ء ، ص 351

۲: پروفېسر هما ډاکټر همايون ، د غزل نه غزلخوان لاړ (غېر مطبوعه)

۳: خټک ، ډاکټر قبال نسیم ، (کار او زیار) ترتیب او تدوین ډاکټر وزیر شادان ، ډاکټر بنارس خان خټک ، اپرېل 2017ء ، اعراف پرنټرز پېښور ، مضمون داور خان داؤد

۴: یونس خلیل لا له زار ، خوروونکے ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور ، کال فروري 1946ء ، ص 64

۵: یونس خلیل څاڅکي (دوېم ځل) خوروونکے مترو پرنټرز لاهور کال 1996ء ص ،1

۶: څاڅکي ، ص ، 3

۷: همدغه ، کتاب ، ص ، 3

۸: یونس خلیل پس د څاڅکو لا له زار ، خوروونکے حرم پرنټرز محله جنګي پېښور

۹: هم دغه کتاب ، ص ، 5

۱۰: هم دغه کتاب ، ص ، 13

۱۱: هم دغه کتاب ، ص ، 17

۱۲: هم دغه کتاب ، ص ، 20

۱۳: هم دغه کتاب ، ص ، 21

۱۴: لا له زار ، ص ، 4

۱۵: لا له زار ، ص ، 4

۱۶: څاڅکي ، ص ، 6

۱۷: خټک خوشحال ، فراق نامه ، ترتیب همېش خلیل ، خوروونکے ، ناصر مکتبه پېښور کال 1983ء ، ص ، 65

۱۸: څاڅکي ، ص ، 50 ،51

۱۹: همدغه کتاب ، ص ، 52

۲۰: هم دغه کتاب ، ص ، 100

۲۱: پس د څاڅکو لا له زار ، ص ، 100

۲۲: خټک خوشحال ، کلیات ، ترتیب و حواشي دوست محمد کامل مهمند خوروونکے اداۂ اشاعت سرحد پېښور کال 1952ء ، ص ، 366

۲۳: هم دغه کتاب ، ص ، 203 ، 204

۲۴: څاڅکي ، ص ، 24 ، 28

۲۵: همدغه کتاب ، ص ، 66

۲۶: همدغه کتاب ، ص ، 30

۲۷: همدغه کتاب ، ص ، 29

۲۸: څاڅکي ، ص ، 71

۲۹: ځاځکي ، ص ، 83
۳۰: همدغه کتاب ، 84 ، 75
۳۱: همدغه کتاب ، ص، 87
۳۲: همدغه کتاب ، ص ، 114 ، 115
۳۳: پس د ځاځکو لا له زار ، ص ، 50
۳۴: همدغه کتاب ، ص ، 184
۳۵: ځاځکي ، ص ، 32
۳۶: همدغه ، کتاب ، 40
۳۷: همدغه کتاب ، 54
۳۸: ځاځکي ، ص ، 107
۳۹: همدغه کتاب ، ص ، 115
۴۰: پس د ځاځکو لا له زار ، ص ، 59
۴۱: پس د ځاځکو لا له زار ، ص ، 85
۴۲: همدغه کتاب ، ص ، 95
۴۳: همدغه کتاب ، ص ، 120
۴۴: پس د ځاځکو لا له زار ، ص ، 140 ، 141
۴۵: همدغه کتاب ، ص ، 171
۴۶: همدغه کتاب ، ص ، 194
۴۷: همدغه کتاب ، ص ، 198
۴۸: ځاځکي ، ص ، 28
۴۹: همدغه کتاب ، ص ، 55
۵۰: پس د ځاځکو لا له زار ، ص ، 107
۵۱: ځاځکي ، ص ، 60
۵۲: همدغه ، کتاب ، ص29
۵۳: ځاځکي ، ص ، 39
۵۴: همدغه کتاب ، ص ، 45
۵۵: همدغه کتاب ، ص ، 86
۵۶: پس د ځاځکو لا له زار ، ص ، 86

۵۷: همدغه کتاب ، ص ، 202
۵۸: لا له زار ، ص ، 33
۵۹: همدغه کتاب ، ص ، 37
۶۰: څاڅکي ، 20
۶۱: څاڅکي ، ص ، 21
۶۲: همدغه کتاب ، ص ، 32
۶۳: څاڅکي ، ص ، 622
۶۴: همدغه کتاب ، ص ، 90
۶۵: پس د څاڅکو لا له زار ، ص ، 171
۶۶: همدغه کتاب ، ص ، 184
۶۷: پښتانهٔ ليکوال ، اول ټوک ، ص ، 351
۶۸: صابر ايوب ، جديد پښتو ادب ، شاهين برقي پرېس پشاور ، جون ، 1974ء ، ص ، 247
۶۹: درداني مؤلف, پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک ، حرم پرنټرز ، محله جنګي پېښور کال 2000ء ، ص،33
۷۰: همدغه کتاب ، ص ، 303
۷۱: پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک درداني ، ص ، 299
۷۲: د خوږې لهجې شاعر ، پروفېسر ډاکټر همايون هما ، درداني ، ص ، 304